مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۱۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسل‌او لسمه برخه)

### غلام محمد اورمړ «حیرت»

د حاجي امرالله اورمړ زوی په ۱۹۱۸ز کال کې د لوګر په بره کې برک کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په کور او په لومړني ښوونځي کې تر پینځم ټولګي پورې کړي دي. د مالیې په ریاست کې کاتب. د ګمرکاتو سرکاتب. د خلم، بلخ او د نهر شاهي په ولایتي حکومتیو کې سرکاتب. په ۱۹۴۱ز کال کې د شولګرې مالي مأمور. په ۱۹۴۸ز کال کې د مزار شریف د ښاروال مرستیال. شاعر.

### مهر چند ورما

یو کابلی هندو دئ. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۵ز کال پورې د سوداګری او د صنایعو د خونې رئیس. د ۱۹۸۵ز کال د دسمبر په میاشت کې د سوداګرۍ د وزارت مرستیال وزیر.

### حفیظ الله وفا

د مبارک شاه نورستاني زوی. په ۱۹۳۹ز کال کې د کابل د ښکلو هنرونو له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. د ۴۰ کالو لپاره ښوونکی وو چې د پغمان په درالمعلمینو، د نجات او استقلال په لیسو او د غلام محمد میمنګی د انځورګری په انستیتیوت کې ئې د انځورګرۍ تدریس وکړ. شاعر، لیکوال او انځورګر. ګڼ شمېر جوایز ئې ګټلي دي.

### پاچاګل وفادار

په ۱۹۴۳ز کال کې د پکتیا په ځدرانو کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۳ز کال کې پورې ئې په حربي ښوونځي کې تحصیل کړی دئ. د لوړو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته لاړ او په ۱۹۶۹ز کال کې د انجنیرۍ د ډیپلوم په اخیستلو فارغ سو. خپل کاري ژوند ئې په ۱۹۶۹ز کال کې له هوایي ځواکونو څخه پیل کړ. دی یو خلقی وو چې د ۱۹۷۳ز کال په کودتا کې ئې ګډون کړی وو. په ۱۹۷۳ز کال کې د سرحداتو د چارو وزیر. په ۱۹۷۴ز کال کې د بلغاریا سفیر؛په ۱۹۷۷ز کال کې د لبیا سفیر. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې د هندوستان سفیر. له یوې روسی مېرمنې سره ئې واده کړی دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## دُر مـحـمـد وفاكيش

په ۱۹۸۰ز کال کي د انيس محرر. د بادغيس والي. د کابل د لومړی – ۱ ناحيې ګوندي منشي. ويل کېږي چي د ۱۹۸۱ز کال د مي په لومړی نېټي ووژل سو.

## مـحـمـد خـبـيـر وهاب زاده

د محـمـد اسحٰق زوی په ۱۹۴۹ز کال کي د کابل په چهار آسياب کي زېږېدلی دئ. د حبيبيې په ليسي او د کابل په دارالمعلمينو کي ئې زده کړې کړي دي. خپله ماستري ئې د جرمني د بن له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. له ۱۹۸۰ز کال راهيسي په لويديځ جرمني کي د افغانستان د مجاهدينو د اسلامي اتحاد استازی.

## سراج الدين وهاج

په قوم توخي، د شاه دولا د زوی سلطان عزيز زوی، په ۱۹۳۲ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د نجات په ليسي کي ئې زده کړې کړي او په جرمني کي ئې په ژورناليزم کي تحصيل کړی دئ. د لويديځ جرمن د اخبار لپاره ئې کار کړی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کي د پښتون ږغ مسؤول مدير. د راډيو افغانستان د هنر او ادبياتو د اداري مدير. د کابل د ورځپاڼي د نشراتو مدير. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۶ز کال پوري د بيهقي د نشراتي مرکز مدير. د امريکا په متحده اياالاتو کي ژوند کوي.

**عبدالله وحيد** : وګورئ : سيد وحيد عبدالله

## غلام حضرت وحيد

د محمد طاهر زوی په ۱۹۱۸ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. خپل تحصيلات ئې د حبيبيې په ليسي او د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کي کړي دي. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۱ز کال پوري ئې د ويرمونت په پوهنتون کي عامه روغتيا لوستي ده. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د هرات د روغتيا د رياست رئيس. د ډاکټر احمد جاويد له خور سره ئې وادهٔ کړی دئ. په کابل کي ژوند کوي.

## مـحـمـد انور واحدي

وردک دئ. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۸ز کال کي ئې د حکامو په ښوونځي کي زده کړې کړي دي. د ۱۹۷۸ز کال د مي په مياشت کي د عدليې د وزارت د قضايي چارو مرستيال وزير.

## مـحـمـد عثمان واحدي

د عبدالواحد زوی په ۱۹۳۷ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ؛ دی د „د کورنيو چارو د وزارت د امنيت د عمومي مدير/ جنرال دايرکټر جګړن مـحـمـد صديق واحدي" ورور دئ؛ „بل ورور ئې د عدليې د وزارت د استيناف د محکمې رئيس دئ." په ۱۹۵۵ز کال کي د حبيبيې له ليسي څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۰ز کال پوري ئې خپل ليسانس د کابل پوهنتون د اسلامي شرعياتو له پوهنځي څخه تر لاسه کړ؛ او خپله ماستري ئې په ۱۹۶۶ز کال کي د سويلي کاليفورنيا له پوهنتون څخه په عامه اداره کي ترلاسه کړې ده. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پوري د „ کنک تيکت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د پوهنتون» [1] د منجمنت د پروګرام په کورس کې ګډون وکړ. په ۱۹۵۹ز کال کې د پغمان ولسوال. په ۱۹۶۰ز کال کې د میربچه کوټ ولسوال. په ۱۹۶۷ز کال کې د کورنیو چارو د وزارت د کندهار اداري مدیر. په ۱۹۷۳ز کال کې د هرات عمومي مدیر. په ۱۹۷۵ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. واده ئـي کړی او درې بچیان لري.

## مـحمـد صدیق واحدي

د عبدالواحد زوی په ۱۹۴۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه او په ۱۹۶۱ز کال کې د پولیسو له اکاډیمۍ څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کې د پولیسو په اکاډیمۍ کې مدرس. په ۱۹۶۸ز کال کې ئـي خپل لیسانس د کابل له پوهنتون څخه واخیست. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د کابل پولیسو د شوکمارو، د چا کورونو او نورو ځایونو ته په غیر مجاز ډول د ننوتلو او د غلا ضد د ډلې مشر. جرمني ته لاړ چې د پولیسو او حقوقو په څانګه کې نورې زده کړې وکړي چې له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۷ز پورې ئـي په لویدیځ جرمني کې په فرانکفورت کې په ,لاندې لمن لیک کې وګورئ[2] پوهنتونونو کې تحصیل وکړ. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د پولیسو اکاډیمۍ مدرس. په ۱۹۷۲ز کال کې په برتانیې کې د پولیسو افسرانو لپاره د کورس ګډونوال وو. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کابل پولیسو د جرم د کشف د څانګې آمر. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د کابل پولیسو مدیر. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د کورنیو چارو د وزارت حقوقي مشاور. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د کورنیو چارو د وزارت د پولیسي خدماتو دایرکترجنرال. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې په پلچرخي کې سیاسي زنداني او له ۱۹۸۱ تر ۱۹۸۲ز کال پورې په خپل کور کې حبس. په ۱۹۸۴ز کال کې هندوستان ته د درملنې لپاره لاړ او د ۱۹۸۴ز کال د اپریل په میاشت کې له خپلې کورنۍ سره یو ځای ئـي جرمني ته کډه وکړه. د ۱۹۸۵ز کال د جنورۍ له میاشتې راهیسې د لویدیځ برلین د پولیسو په دیپارتمنت کې په کار مقرر سوی دئ. یو شمېر کتابونه ئـي ژباړلي دي او د ۵۰ په شاوخوا کې مقالې ئـي خپرې سوې دي؛ همدا شان د «جنایي تحقیقاتو د علم» په اړوند دوه ټوکیز کتاب ئـي چاپ کړی دئ چې د جمال الدین افغان د دیرش زرو افغانیو جایزه ئـي ګټلې ده.

## مـحمـد قاسم واجد

د مـحمـد قسیم زوی په ۱۹۰۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۱۷ تر ۱۹۱۹ز کال پورې ئـي په «مکتبِ ترقي» [3] او د استقلال په ښوونځي کې زده کړې وکړې او په ۱۹۲۹ز کال کې فارغ سو. د باندنیو چارو په وزارت کې ئـي کار وکړ او وروسته ئـي د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې کار پیل کړ. په بېلابېلو ښارونو کې د اطلاعاتو او کلتور مدیر وو. د انیس د ورځپاڼې مدیر. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت سلاکار. دی هغه لیکوال او شاعر دئ چې آثار ئـي په ۷ دیوانونو کې چاپ سوي دي. د ۱۹۷۰ز لسیزې په اوږدو کې وفات سوی دئ.

---

[1] -University of Connecticcut
[2] -Polizeifuehrugsakademie and Johann Goethe Universitaet, Frankfurt West Germany
[3] -Maktab-i-Taraqi


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

## ډاکټر محمد امين واکمن [4]

د بريګيډيير ميا صاحب خان زوی دئ چي په ۱۹۳۹ز کال کي په ميدان کي زېږېدلی دئ؛ (بريګيډيير ميا صاحب خان د نادر خان تر لاس لاندي د افغان – انګليس په دريمي جګړې کي ګډون کړی دئ.) محمد امين واکمن په ۱۹۵۷ز کال کي د کابل د تجارت له ليسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۸ز کال کي ئې خپله ماستري د جواهر لعل نهرو له پوهنتون څخه په ديپلوماسی او اقتصاد کي واخيستله؛ او خپله دکتورا ئې په ۱۹۸۴ز کال کي ترلاسه کړله. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۵۹ز کال پوري په کابل کي د ملګرو ملتونو د دفتر د ترانسپورت افسر. په ۱۹۶۵ز کال کي د کابل پوهنتون د ژورناليزم له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کي د غلام محمد فرهاد تر لاس لاندي د افغان ملت يو له بنسټ ايښودونکو څخه دئ. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پروتوکول د مديريت مدير. د ترکي راډيو ټلويزيون د افغانستان د څانګي يو سلاکار انونسر. د ډيوي د ورځپاني محرر او په ۱۹۷۳ز کال کي د جوزجان د ولايت د اطلاعاتو او کلتور مدير. په ۱۹۷۳ز کال کي د افغان ملت د عالي شوری د غړي په توګه وټاکل/ انتخاب سو. په ۱۹۷۵ز کال کي د آل انډيا راډيو د پښتو ژبي ژباړونکی او انونسر. په ۱۹۷۹ز کال کي له کاره برطرف سو. د افغان سوسياليست ګوند د سکرتر جنرال نوم ئې ځانته منحصر کړ. د سوشيل ډيموکراسی په نوم يو کتاب او پښتو شعرونه ئې چاپ کړل. د تورن جنرال محمد حسين ناصری له لور سره ئې وادهٔ کړی دئ او دري بچيان لري. مورنی ژبه ئې پښتو ده او په ترکي ژبي هم خبري کوي. د امريکا په متحده ايالاتو کي استوګن دئ.

## عبدالحق واله

(د حبيب الله کلکاني د باندنيو چارو د وزير) عطاء الحق واله زوی په ۱۹۲۷ز کال کي

نور بيا

## عبدالحق واله

(د حبيب الله کلکاني د باندنيو چارو د وزير) عطاء الحق واله زوی په ۱۹۲۷ز کال کي...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

4 - دلته يي په عربي الفباء واکمن د واکمان په ډول ليکلی دی چي غالباً ټايپي تېروتنه ده. – ژ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ